د هیوادني راپور لنډیز د ۲۰۱۴ کال د جنوري میاشت

# افغانستان

د ۲۰۱۴ کال په پای کې د نړیوالو ځواکونو د وتلو لپاره تیاری ان په ۲۰۱۳ کال کې روان وو، او د نړیوالو ځواکونو لویه برخه یا وتلې وه او یا په بیزونو کې ګوښه شوې وه او په دې لوژستیکي چارو یې فکر کاوه چې خپل نظامي تجهیزات څه ډول له هیواده وباسي. د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو د طالبانو او نورو ترهګرو پر وړاندې د جګړې مشري په داسي حال کې پر غاړه واخیسته چې پایله یې لا څرګنده نه ده.

د افغانستان د امنیتي ځواکونو وړتیا د حکومت په واک کې د پرتو سیمو د ساتلو په برخه کې څرګنده نه ده دا خو لا ډیره لرې ده چې د ترهګرو تر واک لاندې سیمې بیا ولکه کړي. د ۲۰۱۲ کال برعکس، د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ملګرو ملتونو د ملکي تلفاتو په کچه کې ۲۳ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی چې عاملین یې زیاتره د طالبانو په شمول ترهګرې ډلې دي او په ښکاره توګه هغه ملکي خلک تر هدف لاندې نیسي چې د دوی په اند له دولت څخه ملاتړ کوي.

د تیرو کلونو پر مهال په هیواد کې د زیاتیدونکي بې ثباتۍ او بشري حقونو ته د سپکاوي بهیر روان وو. دا بهیر د ښځو پر حقونو د تیریو، د کورنیو مخ پر زیاتیدونکو بیځایه کیدنو، کډوالی او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون د کمزورې اغیزمنتیا په بڼه روان وو. د تیریو په وړاندې معافیتونه د دولتي امنیتي ځواکونو او نورو وسله والو لپاره نورم ګرځیدلی وو. دې ستونزو دا اندیښنې راپورته کړې چې آیا راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې به منصفانه وي او که نه.

## د ښځو حقونه

په داسي حال کې چې نړیواله لیوالتیا په افغانستان کې ورځ تر بله په کمیدو ده، د ښځو د حقونو مخالفینو له دې فرصته ښه ګټه پورته کړې ده چې د طالبانو له را پرځیدو راهیسې رامنځته شوی پرمختګ بیرته پر شا ونغاړي. د ښځو پر وړاندې د تاؤتریخوالي د له منځه وړلو نوی قانون چې په ۲۰۰۹ کال کې د ولسمشر د یو فرمان په ترڅ کې منظور شوی وو ، د مې دمیاشت په یوه پارلماني بحث کې هغه وخت وځنډول شو چې بیلابیلو وکیلانو ددې قانون د لغوه کولو او د ښځو او انجونو د حقوقي ملاتړ پر ضد غږونه پورته کړل. که څه هم قانون تر اوسه نه دی لغوه شوی خو تطبیق یې کمزوری دی. د ښځو پر وړاندې د تاؤتریخوالي د قانون پر ضد دې بحث پر ښځو لا زیات تیري تحریک کړل او یا یې په غیر مستقیمه توګه لا زیاتو تیریو او وروسته تګ ته لاره اواره کړه، چې یو څو بیلګې یې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون یوه کمیشنر عبدالرحمان هوتک له خوا د ښځو پر وړاندې د تاؤتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د لغوه کولو غږ
- د پارلمان دا پریکړه چې په ۳۴ ولایتونو کې د ښځو لپاره په ځانګړیو شویو څوکیو کې ۲۵ سلنه کموالی راولي.
- د عدلیې وزارت له خوا د جزا په قانون کې یو نوی تعدیل دې قانون ته یوه داسي ماده ورزیاتوي چې په جنایي دوسیو کې د یوې کورنۍ د غړي له شاهدۍ مخنیوی کوي او په دې توګه د کورني تاؤتریخوالي او د ماشومانو د ودولو او په زوره ودولو د محاکمې تر څنګ د پارلمان له خوا د قانون تصویبول له ستونزو سره مخامخ کوي.
- د یوازې یو کال بند وروسته د سحر ګل د خسراني آزادیدل، چې خپله ۱۳ کلنه انګور یې د یوې میاشتنۍ شکنجې تر څنګ پر ولږه کړولې وه.

په ۲۰۱۳ کال کې د مشهورو ښځینه شخصیتونو پر وړاندې د ترسره شویو فزیکي تیریو یوې لړۍ د ښځو د حقونو فعالینو او خپله ښځو ته په ټولنیز ژوند کې ګواښ رامنځته کړ، چې ځینې بیلګې یې په لاندې ډول دي:

- د جولايي ۵مه: د پارلمان پخوانۍ وکیلې نورضیه اتمر څرګنده کړه چې هغه د خپل میړه د تیریو له کبله د ځپل شویو ښځو په یوه امن ځای کې اوسیدله. وروسته یې بیا دا هم ومنله چې له هیواده بهر یې د پناه غوښتنه کړې ده.
- د اګست ۷مه: ناڅرګنده وسلوالو د سنا پر غړې، روح ګل، هغه مهال وسلوال برید وکړ چې د غزني په ولایت کې یې د سړک له لارې سفر کاوه. هغه او میړه یې له دې بریده وژغورل شول خو یوه اته کلنه لور او موټر چلونکی یې ووژل شول.
- د سبتامبر ۴مه: د طالبانو یوې خپلسرې یاغي ډلې د یوه افغان صحي کارکوونکي میرمن، سوشمیتا بنرجي، په پکتیا کې له خپل کوره وویستله او پر ډزو له وژلو وروسته یې د هغې جسد د یوې مدرسې بهر وغورځاوه.
- د سبتامبر ۱۶مه: د هلمند ولایت یوه لوړپوړې پولیس افسره، دویم بریدمن نیګاره، د خپلې پخوانۍ آمرې او د جولايي د میاشتې پر دریمه نیټه د وژل شوې، دویم بریدمین اسلام بي بي، تر مړینې څه کم ۳ میاشتې وروسته دندې ته د تګ پر مهال ووژل شوه.

## امنیتي لیږد

د افغانستان پر وړاندې د نړیوالې ټولنې راکمیدونکې لیوالتیا د افغانانو په زړونو کې زیاتیدونکې ویره را ټوکولې ده. د افغانستان امنیتي ځواکونو ګڼې هغه تشې بیرته ډکې کړې چې د نړیوالو ځواکونو د وتلو له کبله ورپاتې وې. خو د ۲۰۱۳ کال د جګړو پر مهال، هره میاشت د افغان امنیتی ځواکونو نږدې ۴۰۰ سرتیري ووژل شول، په داسې حال کې چې په ځینو واحدونو کې له جګړې د ستومانتیا سلنه تر ۵۰ ورسیدله.
د ۲۰۱۴ کال د اپریل میاشتې د ټولټاکنو لپاره تیاری له ستونزو سره مخامخ دی، چې په دې برخه کې د رایه ورکونکو د نومونو د ثبت تخنیکي بهیر؛ د اړونده قوانینو ځنډنی تصویب، د ټولټاکنو خپلواک کمیسون د غړو او د ټولټاکنو د شکایاتو د کمیسون پر سر اختلافونه، د ښځینه رایه ورکوونکو د کمې شمیرې ثبت، او د ټولټاکنو د ورځ لپاره د امنیت په برابرولو کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وړتیا په اړه اندیښنې د یادونې وړ دي.
د داسې کسانو کاندیدیدل چې له بشري حقونو څخه پر سرغړونې سخت تورن دي د رایه ورکولو پروسه یې تر پوښتنې لاندې راوستلې ده او د رایه ورکوونکو د پام وړ برخې په ذهنونو کې یې بدګوماني راپورته کړې ده.

## کډوال او د هیواد دننه بې ځایه شوي کسان

د کړکیچ پر لور روان امنیتي حالات او د راتلونکې په اړه زیاتیدونکې اندیښنې د دې لامل ګرځیدلي دي چې یو ګڼ شمیر کسان له خپلو سیمو څخه د هیواد نورو برخو او یا له هیواده بهر کډه وکړي او یا دا چې له بهرنیو هیوادونو راستانه نه شي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ له میاشتې څخه د جون تر میاشتې پورې د هیواد دننه بېځایه شویو کسانو په شمیر کې څه د پاسه ۱۰۶،۰۰۰ زیاتوالی ښودلی چې له دې سره یې ټولټال شمیر ۵۸۳۰۰۰ ته رسیږي. د دې بیځایه کیدو بنسټیز لامل وسله والې نښتې او تخنی امنیت ښودل شوی دی.

په بهرنیو هیوادونو کې د پناه غوښتونکو افغانانو شمیر هم مخ پر لوړیدو دی، چې ځینې یې پر خطرناکو غرنیزو لارو له افغانستان څخه ایران او له هغه ځایه اروپا ته ځي او یا د بیړیو له لارې استرالیا ته د تګ هڅې کوي. د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د اټکل له مخې په دې وروستیو کلونو کې له ګاونډیو هیوادونو څخه افغانستان ته د راګرځیدونکو کډوالو په شمیر کې هم کموالی راغلی دی.

هغه افغانان چې نورو هیوادونو ته رسیږي له سختو مخالفتونو سره مخامخ کیږي چې له منځه یې د استرالیا د دولت له لوري د نویو ظالمانه پالیسیو رامنځته کیدل دي. دې پالیسیو له مخې پناه غوښتونکي یوه دریم هیواد ته ستنول کیږي. برتانیې او ناروې په ګډون نورو اروپایي هیوادونو او دولتونو دا پیشنهاد وړاندې کړی دی چې هغه افغان ماشومان بیرته افغانستان ته راستانه کړي چې په یوازې سر د پناه غوښتنه کوي.

## تیری کوونکي امنیتي ځواکونه

په دې وروستیو کلونو کې دولت په زیاته پیمانه د ملګرو ملتونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون هغه اسناد رد کړل چې افغان پولیس او د ملي امنیت مسئولین یې د بندیانو پر شکنجې تورن کړي وو. خو د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ پر ۱۰مه نیټه د ولسمشر د فرمان پربنسټ پر دې تورونو ترسره شوې یوې دولتي پلټنې وښودله چې پراخه شکنجې ترسره شوي دي. د فبرورۍ د میاشت پر ۱۶مه یو ځل بیا کرزي د شکنجې پر ضد د تدابیرو حکم صادر کړ چې د هغو مامورینو محاکمه هم په کې شامله وه چې شکنجه یې ترسره کړې وه.

د سپتامبر په میاشت کې ولسمشر کرزي د یوې کمیټې د جوړیدلو حکم صادر کړ چې د محبسونو حالات وڅیړي. خو د دې راپور تر لیکلو پورې داسې نښې نښانې نه دي ترسترګو شوي چې د شکنجه کوونکو د محاکمې ثبوت وړاندې کړي او یا د ولسمشر کرزي دحکمونو په پایله کې د محبسونو په شکنجې او یا کوم بل ډول ناوړه چلند کې د پام وړ کموالی وښیي.

د افغانستان محلي پولیس چې د محلي دفاعي ځواکونو یوه شبکه ده او د امریکایي ځواکونو په همکارۍ د دولت له خوا رامنځته شوې دي، د یوې جدي ستونزې بنه یې غوره کړې ده.

د افغانستان محلي پولیس په هغو سیمو کې د امنیت د ټینګولو لپاره رامنځته شوي دي چې ملي پولیس او ملي اردو حضور په کې محدود دی. خو دا ځواکونه په کال ۲۰۱۰ کې د جوړیدو له پیل څخه بیا تراوسه له یو لړ تشکیلاتي ستونزو سره مخامخ دي چې د پرسونل د استخدام کموالی، د قیادت او کنترول کمزوری جوړښت او د حساب ورکوونې د میکانیزمونو نشتوالی پکې شامل دي. لکه چې په وژنو، جنسي تیریو، غلا، زورزیاتي او د نابالغه زلمیانو د ګمارنې په تړاو پر محلي پولیسو له لګیدل شویو تورونو په ښه ډول څرګندیږي، دا ستونزې تر اوسه هم رواني دي.

## انتقالي عدالت او د بشري حقونو مدافعین

که څه هم د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون د نړیوالو له خوا د بشري حقونو د یوې اغیزمنې ټولنې په توګه ستایل شوی دی خو دا کمیسون د ولسمشر کرزي له خوا په تیر یو نیم کال کې د ګنو کمیشنرانو د نه ګمارل کیدو له کبله د ۲۰۱۱ کال له سپتامبر څخه بیا د ۲۰۱۳ کال تر جون میاشتې پورې په یوه معلق حالت کې پاتې وو.

وروسته تر دې چې نړیوالو تمویل کوونکو په ۲۰۱۲ کال کې د رابلل شوي توکیو کنفرانس د هغو ژمنو په اډانه کې د دې څوکیو د ډکولو لپاره ضرب الاجل وټاکه چې د ۱۶ میلیارده ډالره مالي مرستې په مقابل کې یې له دولت څخه اخیستي وې او د بشري حقونو ملاتړ هم په کې شامل وو، بالاخره کرزي د ۲۰۱۳ کال د جون په میاشت کې تول خالی بستونه ډک کړل. خو لکه چې د بشري حقونو د ملي کمیسونونو په اړه د پاریس معیارات یې اړینه بولي، په دې کار کې له مدني ټولنې سره هیڅ سلا مشوره ونه شوه. د دې نویو پینځو کمیشنرانو له منځه زیاترو یې د بشري حقونو په برخه کې یا لږ او یا هیڅ تجربه نه درلوده او یا داچې د بشري حقونو له نړیوال مفهوم سره یې په ډاګه مخالفت کاوه. عبدالرحمان هوتک چې د طالبانو د اداري پخوانی غړی دی، تر ټاکل کیدو وروسته یې سمدستي

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون پر ضد نیوکه وکړه. د جون په میاشت کې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ د دې کمیشنرانو پر ټاکنه سخته اندیښنه ښکاره کړه او د افغانستان پر حکومت یې غږ وکړ چې پر دې ټاکنو له سره غور وکړي او د ټاکنو پروسه له سره پرانیزي.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون یوه بنسټیزه لاسته راوړنه د ۸۰۰ مخونو په حجم د یو راپور بشپړول دي چې د کمونیستي پیر راهیسي یې په افغانستان کې جګړه ییزو او بشري حقونو پر وړاندې د شویو جنایتونو جاج اخلي. دغه راپور چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې بشپړ شوی دی، د هغو کسانو د محاکمه کولو لپاره بنسټ رامنځته کوي چې د پخوانیو حکومتونو د واکپیر پرمهال په ترسره شویو تیریو کې لاس لری. خو تر اوسه هم ددې راپور لپاره د خپرولو کومه پلان شوې نیټه نه ده ټاکل شوې: ولسمشر کرزي د یو شمیر نړیوالو تمویل کوونکو په هڅونه، چې امریکا او برطانیه هم په کې شاملې دي، د دې راپور پر خپرولو یې له دې کبله بندیز لګولی دی چې ښایي خپرول یې په دې ترینګلي چاپیریال کې د بې ثباتۍ لامل وګرځي. ځکه چې دا راپور یو شمیر پیاوړي اشخاص پر جنایتونو تورنوي.

## د بیان او احزابو آزادي

د بیان او احزابو آزادۍ ته د رسنیو او سیاسي احزابو لاسرسی چې د کال ۲۰۰۱ راپدیخوا په افغانستان کې د بشري حقونو یو پریکنده بریالیتوب بلل کیده په ۲۰۱۳ کال کې له ګواښ سره مخامخ شوی دی.

د دوه کره افغان رسنیزو ټولنو، نی او د افغانستان د ژورنالیستانو د ژغورنې د ټولنې له خوا راټولې شوې احصایې ښیې چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله په ۲۰۱۳ کال کې ژورنالستان له زیات ګواښ سره مخامخ وو. دواړو ټولنو د ۲۰۱۳ کال د شپږو لومړیو میاشتو په ترڅ کې پر ژورنالستانو ۴۰ بریدونه ثبت کړي دي چې دا شمیره د ۲۰۱۲ کال د شپږو لومړیو میاشتو په پرتله خورا لوړه ده. په دې تیریو کې ګواښنې، وسله وال بریدونه او اختطاف شامل دي. په دې منځ کې هغه زیاتیدونکې قضیې د ځانګړي پام وړ دي چې په ترڅ کې یې دولتي مامورین او د افغانستان د امنیتي ځواکونو غړي تر بریدونو لاندې راځي. داسې قضیې هم شته چې په ترڅ کې یې یو لړ ژورنالستانو د تیري لاندې تر راتلو وروسته امنیتي ځواکونو ته د مرستې لپاره مراجعه کړې خو له دوی سره یې له مرستې انکار کړی او یا پخپله د امنیتي ځواکونو د تیریو قرباني ګرځیدلي دي.

## نړیوال کلیدي لوبغاړي

له افغانستان سره په اړیکو کې د زیاترو هغو هیوادونو نړیوالې خپلمنځې ستونزې چې د ځواکونو په لیږلو کې یې همکاري کړې او یا یې د ۲۰۰۱ کال را وروسته د پام وړ مالي مرسته کړې – په ځانګړې ډول د امریکا متحده آیالات چې تر ټولو زیاته نظامي او مالي مرسته یې کړې ده – د بشري حقونو او په ځانګړي توګه د ښځو د حقونو په تړاؤ یې پر افغان دولت د سیاسي فشار د نه زیاتولو له کبله په ۲۰۱۳ کال کې دې حقونو ته د درناوي په برخه کې منفي اغیز شیندلی ده.

په داسې حال کې چې ګڼ شمیر هیوادونه له افغانستان سره د مالي مرستو په برخه کې ژمنو ته دوام ورکوي، سیاسي ژمنې په چټکۍ سره خپل رنګ له لاسه ورکوي او د امریکا متحده آیالات زیاتره مرستې بیرته راکموي. دا انګیزه چې په افغانستان کې نړیوال ګډون د پای پر لور روان دی، له ډیپلوماتانو سره په بحثونو کې په ښه راڅرګندیږي او په نړیوالو مرستو کې کموالي خو له وړاندې د ځینو ښوونځیو او روغتیایي کلینیکونو دروازې ورتړلې دي.

د ۲۰۱۴ کال په پای کې د نړیوالو نظامي ځواکونو د وتلو تود ګونګوسی به د نړیوال مشارکت دا کموالی نور هم پسي زیات کړي. په دوحه او قطر کې د طالبانو د دفتر د رامنځه کیدو پر سر د افغانستان د دولت او د امریکا د متحده آیالاتو تر منځ د راټوکیدلو اختلافاتو له کبله د دواړو هیوادونو تر منځ دوه اړخیزه امنیتي توافقنامه، چې ټاکل شوې ده د ۲۰۱۴ کال وروسته به په افغانستان کې د امنیت د ټینګولو ملاتړ کوي، پر خپل ځای ناتمامه پاتې ده. له نورو کلیدي نړیوالو ګډون کوونکو سره هم د ورته توافقنامو برخلیک د همدې توافقنامې له کبله ناڅرګند پاتې شوی دی. دې خنډ په افغانستان کې د ناڅرګندې راتلونکي او بې ثباتۍ احساس نور هم لوړ کړی دی.

د ۲۰۱۳ کال د اپریل په میاشت کې ولسمشر کرزي اعتراف وکړ چې د امریکا د استخباراتو ادارې له یوې لسیزې راهیسې د هغه دفتر ته په میلیونونو ډالره ورکړي دي. په داسي حال کې چې دې اعتراف د امریکا د سنا د بهرنیو چارو کمیټې یو کلیدي غړی د دې مرستو لنډمهالي بندیز ته وهڅاوه، د دې مرستو د څرنګوالي په اړه یې د لا زیاتو معلوماتو و غوښتلو ته هم اړ کړ.

د نړیوالي جنایي محکمې څارنوالان چې له ۲۰۰۷ کال راهیسي د مهمو نړیوالو جنایي تورونو لکه شکنجې، په نظامي لیکو کې د نابالغه زلمیانو استخدام، پر بشري موخو، ملګرو ملتونو او ښوونځیو د بریدونو پلټنه کوي، اوس یې هم افغانستان په لومړنیو څیړنو کې ځای لري.